# سپټمبر ۲۰۱۷ – فبروری ۲۰۱۸

# نهایي
## ژمني چمتوالي ته د ګډ ځواب ستراتېژي
### د افغانستان حکومت او د بېړنۍ سرپناه/ **NFI** کلستر

(د ۲۰۱۷، اکتوبر په ۲۷ د *DiREC* له لوري تائید شوی)



**Shelter Cluster Afghanistan**
ShelterCluster.org
Coordinating Humanitarian Shelter

د مطالبو فهرست پاڼه


1. عمومي کتنه........................................................................ ۲

2. د ژمني چمتوالی غبرګون هدف...................................................... ۳

3. همغږي.............................................................................. ۴
I. همغږي په ملي کچه..................................................... ۴
II. همغږي په ولایتی کچه.................................................... ۴
III. مهال وېش........................................................................................ ۴
IV. د ژمني چمتوالي حداقل کڅوړه............................................................ ۵
V. د مرستو ځانګړتیاوې او ډولونه......................................................... ۵

4. د ګټه اخیستونکو ټاکنه، هدف ایښودنه، زیان مننه او متقابل مسائل... ۶
I. د ګټه اخیستونکو ټاکنه................................................................ ۶
II. هدف ایښودنه.................................................................. ۷

5. د معلوماتو مدیریت....................................................................... ۷
I. د اړتیاوو ارزونه......................................................................۷
II. راپور ورکونه..........................................................................۸
III. څارنه........................................................................... ۸
IV. د معلوماتو کمپاین.................................................................. ۸

6. د سرچینو بسیج............................................................. ۹

1. عمومي کتنه:

I. په تېر ژمي کې (۲۰۱۶/۲۰۱۷)، د ۳۴ ولایتونو څخه ۳۳ ولایتونه د سختي هوا د حالاتو له امله اغیزمن شوي چې په کې د درنې واورې ورښت، واوره ښوېدنه، او د ورښت اړونده پېښې شاملې وې.

II. د بشرپاله چارو د همغږۍ لپاره د ملګرو ملتونو اداره (OCHA) وايي چې د ۲۰۱۷ د جنوري څخه تر اګسټه پورې، د طبیعي پېښو له امله، ۱۴۴ کسه وژل شوي او ۱۲۵ کسه ټپیان شوي دي، چې په ټولیزه توګه ۵۰۰۰۰ کسه د یادو پېښو او تر ډېره د سېلابونو څخه اغېزمن شوي دي. د ۱۲۰۰۰ څخه ډېر کسان د واورې ښوېدنې یا درنې واورې ورېدنې څخه اغېزمن شوي دي[1].

III. د بشرپاله چارو د همغږۍ لپاره د ملګرو ملتونو د ادارې او د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت (MoRR) د راپور پر بنسټ، د ۲۰۱۷ د جنوري څخه د سپټمبر تر ۲۰مې نېټې پورې، د ۲۵۷۰۰۰ ډېر کسان د شخړو په پایله کې نوي بېځایه شوي دي چې ۱۹٪ یې په هغو سیمو کې اړولي دي چې لاسرسی ورته ستونزمن دی. د شمال-ختیځ زون څخه وروسته لویدیځ زون دویم تر ټولو ډېر زیانمن شوی (د ۵۰۰۰۰ کسانو څخه ډېر) زون دی[2]. د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت (MoRR) په وینا، د ۳۰۰۰۰۰ څخه ډېر کسان (اسناده او بې اسناده) د ۲۰۱۷ د جنوري څخه تر سپټمبر پورې راستانه شوي دي. پدې حساب (کورني بېځایه شوي کسان او له بهر څخه راستانه شوي کسان) ۷۹۵۷۱ کورنۍ کېږي، که چېرې په منځني ډول د هرې کورنۍ د غړو شمېر ۷ کسه ونیسو.

IV. د خو-کلسټري اړتیاوو ارزونې پر بنسټ چې د ریچ (REACH) له خوا په ۲۰۱۷ کې د شمالي، لوېدیځو، ختیځو او مرکزي سیمو په نارسمي استوګنځایونو باندې تر سره شوه، ۶۹٪ خلک د سون توکو ته اړتیا لري (تر ټولو لوړ په شمالي او لوېدیځو سیمو کې، ۸۰٪) او ۷۳٪ خلک د ژمني چمتوالي توکو ته اړتیا لري (په جنوب ختیځ او شمال کې تر ټولو لوړه کچه، پرلپسې ۸۵٪ او ۸۹٪).

V. د ناروې د کډوالۍ د ادارې (NRC) یوې څېړنې په ډاګه کړه چې ۳۷٪ خلک، د هغو ۴۷٪ ښاري سیمو خلکو په پرتله ، په هغو سیمو کې ژوند کوي چې لاسرسی ورته ستونزمن دی او د سرپناه په ناوړه شرایطو کې قرار لري چې خرابې سرپناوې، خیمې او لندمهاله جوړښتونه هم پکې راځي.

VI. د IOM DTM یوه ارزونه چې د بغلان، بلخ، کابل، کنړ، کندز، لغمان، ننګرهار، پکتیا او تخار په سیمو کې ترسره شوه ښیي چې ځینې کورني بېځایه شوي او راستنانه شوي خلک د سرپناه په ډېر ناوړه شرایطو کې ژوند کوي. ځینو یې په پرېښودل شویو او ړنګو ملکیتونو کې اړولي او ځینو یې بیا په کېندل شویو ځایونو ترپالونه غوړولي او شپې او ورځې پکې سبا کوي.

VII. ژمنۍ چمتوالی د بېځایه شویو او راستنېدونکو لپاره د اجراییوي کمېټې (DiREC) د پالیسی د کاري چوکاټ د تمرکز د اصلي ساحاتو او د ES/NFI کلسټر ستراتېژۍ یوه برخه دی. د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمېشنرۍ اداره (UNHCR) د ES/NFI

[1] https://www.humanitarianresponse.info/en/operations/afghanistan/natural-disasters-0

[2] https://www.humanitarianresponse.info/en/operations/afghanistan/idps

کلسټر مخکښه اداره چې د همغږۍ کوونکي په توګه يې د کډوالۍ نړيواله اداره (IOM) ملاتړ کوي.

VIII. افغانستان ۷۰٪ د لوړو ارتفاعاتو غرنۍ سیمې لري چې پکې اوسېدونکی نفوس تر ډېره د ژمي د شرایطو څخه زیانمن کېږي. سر بیره پردې، د افغانستان د ۳۴ ولایتونو څخه د ۲۱ ولایتونو په مرکزي، مرکزي ارتفاعاتو، شمالي، شمال ختیځو او لوېدیځو سیمو کې خلک نه یوازې دا چې د سخت او دوامدار ژمي د تودوخې کچه تجربه کوي بلکې د نوي ستر بې ځایه شوي او بیرته راستانه شوي نفوس کوربه توب هم کوي.

IX. تمه کیږي چې د حکومت سره په همغږۍ کې ۷۸۰۱۳ کورنۍ (۵۴۶۰۹۱ نفره)[3] به د ژمنیو احتمالي شرایطو څخه په مناسبه توګه اغیزمن شي. اټکلونه د تاریخي معلوماتو، نویو بېځایه شویو، بیرته راستانه شویو او د ۲۰۱۶ ژمني چمتوالي غبرګون او د دREACH څو-سکټوري سروې پر بنسټ ولاړ دي.

X. لکه څنګه چې ژمنۍ تودوخه د مرطوبې هوا سره یوځای رانږدې کېږي، د ژوند ژغورنې د مرستو لپاره د چمتوالي او غبرګون ورکولو اقدامات، د خطراتو، د ساتنې د خطرونو، د عناصرو ساتنې او نورو روغتیایي خطرونو سره چې د سختو اقلیمی شرایطو سره تړل شوي دي، حیاتي ارزښت لري.

XI. پروخت د ژمني چمتوالي غبرګون به ژوند وژغوري، (په ځانګړې توګه د ښځو او ماشومانو لپاره) د ساتنې د خطرونو مخنیوي به وکړي او راکم به یې کړي او همدا ډول د نورو ترڅنګ به د شدیدې هوا پورې تړلو ناوړه روغتیایي پایلو، خرابو شرایطو، د مقابلې منفي مکانیزمونو او دویم ځلي بېځایه کېدنې مسائلو په حل کې مرسته وکړي.

## 2. د ژمني چمتوالي غبرګون هدف:

I. اساسی موخه دا ده چې د ټولنې پر بنسټ د تګلارو له لارې تر ټولو زیان منونکو خلکو ته د ژمني چمتوالي ژوند ژغورنې همغږۍ او پر وخت غبرګون وړاندې کړل شي. دا د DiREC د دویمې موخې سره مطابقت لري.

II.

III. د ۲۰۱۶ کال د UNHCR د ویش نه وروسته څارنې څخه د اخیستل شویو درسونو پر بنسټ، د معلوماتو د مدیریت، همغږۍ، د ټولنو سره د سرچینو او اړیکو بسیج، د ویش نه وروسته څارنې، د ګټه اخیستونکو د انتخاب په پروسه کې د دقیقو هڅو او د پلي کولو په پړاو کې د اغیزمنې څارنې او راپور ورکولو اړوند مسائلو د تکرار او بیاځلي ترسره کېدو د مخنیوي لپاره باید ټول اړین اقدامات ترسره شي.

IV. ***<u>موخه په ژمنی چمتوالی پوری محدود ده او د سازمان د ننه یا د کلستر د ننه طبیعی ګواښونو غبرګونونه لکه ناڅاپي بېړنی حالات لکه سیلاب، ځمکه ښوېدنه، زلزله او واوره ښوېدنه پکی شامل نه دی. د دی ځانګړو مواردو لپاره، OCHA به د حکومت سره په همغږۍ کی د کلستر د ننه غبرګون مشري وکړي.</u>***

## 3. همغږي:

[3] *Refer to annex 1 (Projections per province)*

**I.** **همغږي په ملي کچه:** د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمېشنرئ اداره (UNHCR) د ES/NFI کلسټر مخکښه اداره د همکارۍ په توګه د کډوالی نړیواله اداري (IOM) سره په همغږۍ د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت او ANDMA (چې د دولت استازولي کوي) سره د ژمني چمتوالي کی غبرګون د همغږۍ او هر ډول وضعیت د هوارولو په موخه چې بنايي رامنځ ته راشي، اړیکه ټینګوي.

دواړه د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت او ANDMA به حکومت ته منظم راپورونه د بېځایه شویو او راستنېدونکو لپاره د اجرایيوي کمېټې (DiREC) له لارې وړاندې کوي، پداسې حال کې چې د NFI/ES کلسټر د مخکښې ادارې په توګه به UNHCR ټولو شریکانو ته په ملي کچه د NFI/ES کلسټر د اوسني میکانیزم له لارې خبر ورکوي.

د اړتیا په صورت کې به د NFI/ES کلسټر د همغږۍ ټیم د دولت (د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت او ANDMA) او د کلسټر د شریکانو سره چې د ژمني چمتوالي په غبرګون کې ښکېل دي میاشتنۍ غونډه نیسي تر څو د غبرګون، خلاوو او ننګونو په اړه معلومات سره تبادله کړي.

**II.** **همغږي په ولایتی کچه:** د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمېشنرئ اداره (UNHCR) د ES/NFI کلسټر مخکښه اداره د همکارۍ په توګه د کډوالی نړیواله ادارې (IOM) او اصلي ولایتي ادارو سره په همغږۍ د کډوالو او راستنېدونکو چارو ریاست او ANDMA (چې د دولت استازولي کوي) سره نبغ په نېغه اړیکه نیسي تر څو په ولایتی کچه ټول غبرګونونه سره همغږي کړي.

د کډوالو او راستنېدونکو چارو ریاست به په منظم ډول والیانو او نورو بنسټونو ته د هر ډول ستونزې یا اندېښنې د ځواب او تعقیب په اړه راپورونه ورکوي.کلسټر به په منظم ډول بشرپاله شریکان د اوسنیو مکانیزمونو له لارې او د د کډوالو او راستنېدونکو چارو ریاست، OCHA او ANDMA په مشارکت، خبروي. په هغو سیمو کې چې د کلستر د ننه غبرګون ته اړتیا وي، OCHA به د غبرګون همغږي وکړي.

**بشرپاله اداري:** په اوسمهال کې ټولې ۱۱ بشرپاله ادارې (**یونیسف، Islamic Relief، CARE، QRCS، WHH، UNHCR، ADRA، IOM، Mission East، Save Children**) د ژمني چمتوالي غبرګون په برخه کې ښکېلې دي، خو د کلسټر نور شریکان هم لېواله دي خو د سرچینو نه شتون په دې برخه کې اصلي ستونزه ده.

**III.** **مهال وېش:** د ژمي شدید شرایط معمولاً د ډېسمبر څخه تر فبروري پورې پېښیږي. ټوله هڅه به وشي تر څو د ژمي په ساړه موسم کې پروخت د مرستې د رسېدو څخه ډاډ تر لاسه شي. ارزونه به د اکتوبر په میاشت کې د مرستې رسولو څخه وروسته ورپسې پیل شي.

**IV.** **د ژمني چمتوالي حداقل کڅوړه**

د ژمني چمتوالي منل شوې معیاري ستراتیژي په لاندې ډول ده:

۱ ټاکنه:

- د ۵ کیلوګرامه په ظرفیت د ګاز یو کپسول او ۶۰ کیلوګرامه ګاز/میاشت.

یا **۲ ټاکنه:**

- بخاري سره د لرګيو (۲۰۰کيلوګرامه/میاشت، د وروستۍ حل لاري په توګه، د چاپېریال ساتنې او روغتیایي پایلو په نظر کې نیولو سره

د بشپړونکې مرستې په توګه، کېدای شي چې د اړتیاوو د ارزونې څخه وروسته ۳ کمپلې او ژمنۍ جامې وویشل شي.[4]

- ✓ د ګازو د کپسول او ګازو چمتو کول، د دې لپاره چې د ژوند د چاپېریال سره اړخ لګوي. د ژمني چمتوالي په ترڅ کې به د کورنیو څخه د ملاتړ په موخه لږ تر لږه د دریو میاشتو لپاره د سون توکي چمتو کړل شي.
- ✓ د اړونده ادارو د ارزونې او دې توکو ته د لاسرسي په نظر کې نیولو سره، د دې په بدل کې به د **۲۰۰ ډالرو** نغدي مرسته وویشل شي تر څو د اړتیا وړ توکي چې د سون مواد هم پکې شامل دي، د کورنیو له لوري تأمین شي.
- ✓

## V. د مرستو ځانګړتیاوې او ډولونه

د نغدو پیسو یا توکو د مرستې اړوند مداخلې به په مناسبه توګه کارول کیږي ترڅو په اغیزمنه توګه او په خپل وخت سره د بېړنیو او ځانګړو اړتیاو په لرې کولو کې کې د انعطاف پذیرۍ د شتون څخه ډاډ ترلاسه شي. د غبرګون د یوې برخې په توګه او د سرچینو د شتون سره د تړاو اړوند، د خورا زیان منونکو کورنیو څخه به د هغه موجوده سرپناوو د پراختیا په برخه کې کوم چې په ډېر خراب وضعیت کې دي، ملاتړ کیږي. د مرستو ډولونه د اړتیاوو سره سم توپیر کوي:

- **د ژمي څخه وړاندې د بېړنۍ سرپناه مرسته: الف)** د ویجاړو شویو خېمو بدلول، **ب)** د شته سرپناوو، چې په ډېر ناوړه وضعیت کې دي، د ښه کولو لپاره د توکو، وسایلو او ملاتړ چمتو کول، **ج)** د بېړنۍ سرپناه برابرول تر هغې کچې چې د هغو لپاره مناسبه وي چې په راتله میدان پراته دي. دا مرسته به د ۲۰۱۷ کال د سپټمبر میاشتې څخه تر نومبر میاشتې پورې وړاندې له دې چې د ۲۰۱۷ د ډیسمبر میاشتې څخه تر د ۲۰۱۷ فبروري میاشتې پورې سخت ژمی راشي.

- **د ژمني چمتوالي مرستې کڅوړه: الف)** د ژمنیو اقلامو/توکو لپاره د توکو/نغدي مرستې ؛ **ب)** د نامطلوبو ډېرو شدیدو ژمنیو شرایطو څخه د مؤقتې لېږدونې د کرایې لپاره نغدي مرستې؛ **ج)** د شتون په صورت کې د کمپلو او اضافي جامو وېشل.

## 4. د ګټه اخیستونکو ټاکنه، هدف اېښودنه، زیان منّنه او متقابل مسائل

I. د ژمني چمتوالي مداخلې به د ترټولو بېړنیو سرپناوو او NFIs اړتیاو پربنسټ وي تر څو د بدن د مناسبې تودوخې کچه لوړه او وساتل شي، د (مضره) عناصرو څخه خوندي کړل شي، او د ساتنې او روغتیا خطرونه راکم کړل شي.

[4] د ژمني چمتوالي معیاري کڅوړه *ES/NFI*

II. د هدف ایښودنې مېتودولوژي به په ساتنه راڅرخېږي او د ښځو او ماشومانو لپاره د ساتنې د خطرونو په راکمولو په ځانګړې توګه د ساتنې د خطرونو د شننې او د NFI/ES کلسټر ستراتېژۍ سره مطابق د پاملرنې وړ وي.

III. پر دې سربېره، د زیانمننې هدف ګرځېدلې تګلاره به د سولییز ګډ ژوند د حفظ اړوند د ټولنې پر بنسټ وي نه د وضعیت پر بنسټ.

IV. د ترټولو زیان منونکو کورنیو سربېره، لومړیتوب به هغو ته ورکول کېږي چې تمه کېږي د ارتفاع، تودوخې کچې او اقلیم له امله به په ناوړه اقلیمی شرایطو کې قرار ولري، چې لاندې موارد هم پدې کې شاملېږي:

- هغه کورنۍ چې په رانه میدان ژوند کوي
- هغه کورنۍ چې د زیانمننې په شرایطو، مؤقتي چارې او ډېرې بدې وضعې درلودونکې سرپناه کې ژوند کوي
- هغه کورنۍ چې د اجباري اخراج د خطر سره مخ دي
- هغه کورنۍ چې په نارسمي سکونت کې ژوند کوي
- هغه کورنۍ چې د ځای بدلولو ته اړې دي او د سرپناه مرستو ته بېړنۍ اړتیا لري.

## VI. د ګټه اخیستونکو ټاکنه

- د هغو کورنیو لست چې معیارونه یې پوره کړي دي (زیانمنونکې کورنې بېځایه شوي، بېرته راستانه شوي، میزبانه ټولنه چې د ژمني چمتوالي مرستې لپاره اړین ملاتړ او درآمد نه لري) کېدی شي چې د ټولنې ګټه اخیستونکو کمېټې (د ټولنې استازي، د ټولنې پراختیایی شورا، کورنې بېځایه شوي خلک، شورا، راستانه شوي چې ښځې یې استازولي کوي) له لوري د کډوالو او راستنېدونکو چارو ریاست (DoRR)، ولایتی چارواکي یا اداراتو له لوري د ګټه اخیستونکو د پېژندنې/ ټاکنې کمېټې (UNHCR, ES/NFI focal Point, IOM, DoRR) ته ارجاع کېږي.

- د ګټه اخیستونکو د غوراوي کمېټه (BSC) به د هغو کسانو لست چې معیارونه یې پوره کړي دي، د ارزونې ګډ ټیم (JAT) ته د استولو څخه وړاندې، په ساحه کې د تائید لپاره، آزمویی. د ارزونې ګډ ټیم به د شریکانو د کلسټر څخه جوړ وي چې UNHCR او IOM، او د امکان په صورت او یا پرېکړه کولو کې به د د کډوالو او راستنېدونکو چارو ریاست (DoRR) هم پکې شاملېږي. د ساحوي اروزنې په بهیر کې، د ارزونې مشترک ټیم کولای شي هغه کسان هم شامل کړي چې معیارونه یې پوره کړي خو د ګټه اخیستونکو د غوراوي د کمېټې لپاره وړاندیز شوي نه دي.

V. **هدف ایښودنه:** د ارزیابۍ پایلې به، چې د ارزول شویو زیانمنونکو خلکو لست هم پکې شاملېږي، د زیانمننې د امتیاز کارټ څخه په استفادې، د ګټه اخیستونکو کمېټې ته، د تشخیص، لومړیتوب ټاکنې او د موخې وړ ګټه اخیستونکو غوراوي په هدف لېږل کېږي[5]. وروستۍ پایلې به د ټولو شریکانو سره د یوې همغږې غونډې له لارې شریکې کړل شي او تمه ده چې یو همغږی غبرګون به چې د دې ولسوالیو د ترجیحاتو په وسیله مدیریت کېږي، د سخت ژمي له امله ډېر اغیزمن شي.

---

[5] د زیانمننې د امتیاز کارټ یوه داسې وسیله ده چې د تر ټولو زیانمنونکو کورنیو د پېژندنې لپاره کارول کېږي چې د ټارګېټ شویو مرستو ته شدیده اړتیا لري. ضمیمه ۲ ته مراجعه وکړئ.

- **د ګټه اخیستونکو د غوراوي پروسه د غبرګون د ځنډ په معنی نه ده، بلکې د  هغو کسانو لپاره چې جدي اړتیا لري د روڼتیا او برابر لاسرسي څخه د ډاډ ترلاسه کولو لپاره ده. تمه کیږي چې د ژمني چمتوالي مرستې به ټولنې یا شریکان د لست د ترلاسه کولو او ارزونې څخه وروسته، د دوو اونیو په ترڅ کې وروسپړي.**

## 5. د معلوماتو مدیریت

### I. د اړتیاوو ارزونه

- تخمین دی چې په ټوله کې <u>۷۸۰۱۳ کورنی (۵۴۶۰۹۱ نفره)</u>[6] د افغانستان په ۳۴ ولایتونو کې د ژمي درلودونکو لوړو سیمو کې ژوند کوي او ښایي چې د ژمني چمتوالي مرستو ته اړتیا ولري. دا پر تاریخي معلوماتو، د ۲۰۱۶ ژمني چمتوالي غبرګون او د REACH وروستي څو-کلستړي سروې پر بنسټ ولاړه ده. دا پلان جوړونه په ۲۰۱۷ کې د نویو بېځایه شویو او راستنېدونکو، زیانمنونکي کوربه ټولنې او همدارنګه اغېزمن شویو خلکو پر بنسټ ولاړه ده.
  - ۱۹۲۷۴ راستنېدونکي کورنی (۱۳۴۹۱۸ نفره)
  - ۲۶۵۴۱ کورنی بېځایه شوې کورنی (۱۸۵۷۸۱)
  - ۳۲۱۹۸ زیانمني کوربه/ اغیزمنو ټولنو کورنی (۲۲۵۳۸۶ کورنۍ)

- د یوې همغږې تګلارې او معلوماتو د شنني څخه د ډاډ په موخه، د ژمني چمتوالي د معیارې ارزونې د یوې وسیلې څخه په ګټه اخیستل کیږي. د ګټه اخیستونکو د محرمانه معلوماتو د شریکولو په یوه تړون به په ځانګړې توګه په هغو سیمو کې چې دوه یا ډېر شریکان ځواب ورکونکي وي، موافقه وشي.

- لومړیتوب به هغو سیمو ته ورکول کیږي چې تمه کیږي د ۲۰۱۷ د اکتوبر میاشتې څخه به سخت اقلیمي شرایط تجربه کړي[7].

- د ارزونې په بهیر کې به د ارزونې ګډ ټیم هڅه کوي تر څو د خپلو معلوماتو د شریکولو اړوند د ګټه اخیستونکو رضایت ترلاسه کوي خو هر ډول پرېکړې ته باید درناوی وشي. د هغو خلکو د تعداد وړاندوینه چې تمه ده د سخت ژمي څخه اغېزمن شي، پر تاریخي معلوماتو او د ۲۰۱۶ کال په ژمي کې د پروګرام شویو موخو لپاره د چمتوالي غبرګون پر بنسټ ولاړه ده.

### II. **راپور ورکونه:** د DiREC سره په مستقیمه همغږۍ د کلنیو موسمي فعالیتونو د یوې برخې په توګه، د ژمني چمتوالي دوه اونیز راپورونه به د DiREC د څارنې ادارې له لارې استول کیږي.

- د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمېشنرۍ اداره (UNHCR) د ES/NFI کلسټر مخکښه اداره به د بشرپاله سازمانونو څخه راپورونه تدوین او د DiREC د څارنې ادارې سره به یې د منل شوي قالب (format) څخه په ګټنې شریک کړي.

- د دولت له لوري د ځواب ورکولو لپاره، د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت به د ولایتي حکومت څخه راپورونه راټول او د DiREC د څارنې ادارې سره به یې د هماغه منل شوي قالب له لارې شریک کړي.

---

[6] د کورنی اوسط اندازه ۷ کسه

[7] د ژمني چمتوالي پلان ضمیمه ۳ ته مراجعه وکړئ

- د DiREC د څارنې اداره به راپورونه تثبیت او نهایي کړي او د DiREC سره به يې هم شریک کړي. دواړه UNHCR او د ګډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت (MoRR) به راپورونه په ګډه ګوري تر څو د همغږۍ د شتون او اختلافاتو د مخنیوي څخه ډاډ ترلاسه شي.

III. **څارنه:** تمه کېږي چې په ساحه کې به څارنه په انفرادي توګه د سازمانونو له لوري ترسره کېږي تر څو ټاکل شویو خلکو ته د مرستې د وررسېدو څخه ډاډ ترلاسه شي. د فیډبک او شکایاتو میکانیزمونه به هم د وېشلو په سایټونو کې شته وي، او خلکو ته به د دې مکانیزمونو د کارونې په تړاو پوهاوی هم ورکول کېږي. ګډه څارنه به د ګډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت سره په موافقت کې وي.

- د ES/NFI کلستر ستراتېژۍ مطابق، د هرې اداري نه غوښتل کېږي چې د وېش نه وروسته څارنه د کلستر د منل شوې نمونې (template) یا د کلستر د ځانګړو پوښتنو څخه په ګټنې د ۲۰۱۸ کال د اپریل په میاشت کې ترسره کړي تر څو په زیان منونکو خلکو د اغېز کچه معلومه، اخیستل شوي درسونه راټول او ځواب ورکونه پیاوړې شي او راپورونه د ES/NFI کلستر سره شریک کړي.

- د مالي سرچینو په شتون پورې تړلې، UNHCR د مخکښې اداري په توګه پلان لري ترڅو د ژمني چمتوالي څخه وروسته د یوې بهرنۍ سرچینې له لارې یوه څارنه ترسره کړي. پایلې به د فردې څارنې سربېره د ۲۰۱۹/۲۰۱۸ ژمني چمتوالي ځواب اعلام کړي. د ژوند چاپیریال یوه سروې کولای شي د تودونکو توکو لپاره د یوه مناسب بدیل په موندلو کې مرستندوی وبلل شي.

IV. **د معلوماتو کمپاین:** د ژمني چمتوالي ځواب پروسه کې ګډون او د ټولنې پوهاوی چې د اړتیاوو ارزونه، د تقدم حق، د شکایاتو او کلیدی فیډبک میکانیزمونه هم پکې شاملېږي، د ګډ پوهاوي، د تمو او همدا ډول د کړکیچ د راکمولو څخه ډاډ ترلاسه کول دی.

په همدې ترتیب، د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت او ANDMA به د کډوالو او راستنېدونکو چارو ریاست او ولایتي چارواکي د ژمني چمتوالي د ځواب په اړه خبر کړي تر څو بشرپاله همغږي ډېره او لاسرسی لا آسان شي.

## 6. د سرچینو بسیج: (ظرفیتونه او خلاوې):

- وړاندوېنه کېږی چې ۷۸۰۱۳ **کورنۍ** به د ژمني چمتوالي مرستو ته اړتیا لري چې ټولې اړتیاوې ۱۵۶۰۲۲۰۰ ډالر کېږي که چېرې هره معیاری کڅوره **د کورنۍ په سر ۲۰۰ ډالره شي چې په منځنۍ کچه د دریو میاشتو لپاره به دوام کوي.**

- تر اوسه، کلستر د ۳۹۷۸۸ **کورنیو (۷۹۵۷۶۰۰ ډالر) ته به**، د دادخواهی او دواړخیزه تمویلونکو او ګډو بشرپاله مالي تمویل میکانیزمونو سره په ګډ عمل، **د دریو میاشتو په مخه تودونکي توکي ورکوي**، چې دلته به **د ۳۸۲۲۵ کورنیو (۷۶۴۵۰۰۰ ډالرو)** تشه رامنځ ته کیږي. **سربیره پر دې، د ۵۰۴۶۰ کورنیو لپاره جامې او کمپلې شته تر څو مرسته تمکیل کړي.**

د هغو ژمنو لنډیز چې تراوسه د اداراتو له لوري شوي:

| اداراه | ټاکل شوې کورني | د کورنی په سر کڅوره |
|---|---|---|
| UNHCR | ۳۸۹۲۳ | د تودونکو توکو او دریو کمپلو لپاره ۲۰۰ ډالر |
| UNICEF | ۳۱۳۰۰ | ژمنۍ جامې او درې کمپلې |
| Islamic Relief | ۲۰۰۰ | تودونکي توکي (نیمګړې کڅوره) |
| CARE | ۲۵۰ | ۹۰ ډالر د سون توکو، ژمنیو جامو او دریو کمپلو لپاره |
| WHH | ۵۰۰ | ۲۰۰ ډالر د تودونکو توکو لپاره |
| IOM | ۵۱۰ | ۶۰ ډالر د یوې میاشتې سون توکو، ګاز، ژمنیو جامو او دریو کمپلو لپاره (نیمګړې کڅوره) |
| ADRA | ۳۲۹۵ | ۱۰۰ کیلو ګرامه د ډبرو سکاره یا ۲۰۰ کیلو ګرامه لرګی (نابشپړه کڅوره) |
| Save the Children | ۱۷۷۰ | د ماشومانو لپاره ژمنۍ جامې او درې کمپلې |
| Mission East | ۲۰۰ | تودونکي توکي |
| QRCS | ۱۵۰۰ | د ماشومانو لپاره ژمنۍ جامې او درې کمپلې |

پورتنیو مواردو ته په کتو، د دریو میاشتو په مخه د تودونکو توکو د ۲۰۰ ډالري کڅوړې ټولې اړتیاوې او تشې په لاندې ډول تعبیرېدای شي:

| ټولې اړتیاوې(کورنۍ) | اوسنۍ ژمنه (کورنۍ) | تشه (کورنۍ) |
|---|---|---|
| ۷۸۰۱۳ | ۳۹۷۸۸ | ۳۸۲۲۵ |
| ۱۵۶۰۲۶۰۰ ډالره | ۷۹۵۷۶۰۰ ډالر | ۷۶۴۵۰۰۰ ډالر |

* د مالي تمویل تشه اغیزمنو کورنیو ته مستقیمې پیسې دي او عملیاتي او اداري لګښتونه نه پکې شاملیږي.